Women Economic Empowerment Rural Development Program
WEERDP
توليدي کلي ــ قريه‌های توليدی

## د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام




په کندهار ولايت کې د د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي صنايعو ستر نندارتون د جلالتمآب رييس جمهور د هداياتو سره سم چې په کندهار ولايت کې بايد د کليوالي متشبثينو د توليداتو د انکشاف او پراختيا په موخه بايد لازم اقدامات ترسره شو، ياد نندارتون چې د روان کال د قوس د مياشتې په ۱۲مه نېټه د کندهار ولايت په عينو مېنه کې رسماً د دې ولايت د والي مرستيال، سکتوري رييسانو، مدني فعالانو او رسنيو استازيو په وړاندې پرانيستل شو. په‌کې د هېواد له ۷ زونونو څخه ۸۰تنه کليوالي متشبثينو خپل توليدات لکه لاسي صنايع، خوراکي توکي، زينتي توکي، زېورات...نندارې او خرڅلاو ته ايښي وو

### په دې ګڼــه کې:

- د ښځينه متشبثينو د دويمې ناستې په غونډه کې د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام د متشبثينو ګډون
- د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د انستېټيوت له خوا د کليوالي اقتصاد...
- مېرمن شجاع! هغه مېرمن چې د ټولنې دردونه پخپلو انځورونو کې خلکو ته وړاندې کوي
- د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد دپياوړتيا پروګرام د بېرته...
- د کندهار ولايت د اقتصادي پياوړتيا په موخه د ځانګړې کمېټې دريمه ناسته...
- د بېرته را ستنېدونکو لپاره د تشبثاتو د پرمختيا پروژې په ګټه اخيستونکو د ټولنې او چاپېريال ساتنې ...

## د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام:

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت يو له کليدي پروګرامونو څخه دی ، چې موخه يې د هېواد د 34 ولايتونو په 76ولسواليو کې د بې‌وزله کليوالي مېرمنو د اقتصادي او ټولنيز ژوند کچه لوړول دي. ياد پروګرام کابو د هېواد په هر ولايت کې دوه ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راوستي دي. د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام په پنځه کلنه موده کې 40000 د سپما ګروپونه، د پور او سپما 5000 کليوالي اتحاديې، 5000 توليدي ګروپونه او 500 توليدي اتحاديې جوړوي، چې شاوخوا 6250 کليوالي پرمختيايي شوراګانو يا CDCs په مرسته به دا هدف ترلاسه کړي.

## د مياشتې غوره کارمند



محترم شمس الاسلام ياسر د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام WEERDP د مرکزي زون ارشد مسوول دی.

ښاغلي شمس الاسلام ياسر د نړيوالې سوداګرۍ په برخه کې د انګلستان له چستر پوهنتون او د عامه اداري په برخه کې يې د هندوستان له اندرا ګاندي پوهنتون څخه ماسترۍ ترلاسه کړې. نوموړي له نړيوالو او ملي ادارو سره د مديريت او رهبرۍ په مختلفو برخو کې ۱۲ کلنه کاري تجربه لري. چې له تېر يو کال راهيسې تر اوسه د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام سره د مرکزي زون د مسوول په توګه دنده ترسره کوي.

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام سره د کار له پيل راهيسې يې تر اوسه خپله دنده په احسن ډول ترسره کړې او په دې سازمان کې د يو غوره کارمند په توګه پېژندل شوی.

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام د رهبرۍ هييت ورته له ښبتن تعالی څخه روښانه راتلونکی او برياوې غواړي.

## د ښځینه متشبثینو د دویمې ناستې په غونډه کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد  د پیاوړتیا پروګرام د متشبثینو ګډون




په هغه ناسته کې چې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا په موخه د ښځو د سوداګرۍ د خونې له خوا په سرینا هوټل کې جوړه شوې وه، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام ۲۰ متشبثینو  هم پکې ګډون وکړ.

د دې ناستې په پرانستغونډه کې د پټرولیم او معادنو پخوانۍ وزیرې آغلې نرګس نهان، مېرمن کامله صدیقي، د صنایعو او سوداګرۍ وزارت پخوانۍ مرستیالې، مېرمن آمنه احمدي، د مالیې وزارت د عوایدو عمومي رییس  او له ټول هېواد څخه یو شمېر سوداګرو ګډون درلود.

په دې ناسته کې یو شمېر موضوعات لکه د مارکېټ پېژندنه، بشري منابع، د مدیریت تعریف او د هغه تګلارې د آغلې صغرا محمدي چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام کارکوونکې ده برخوالو ته مطرح شول چې د ناستې ټولو برخوالو او د همکارو بنسټونو استازو یې په اړه بحث وکړ.

د ناستې په پای کې د بي بي خدیجې په نامه مډال ۱۵ مېرمنو ته چې د هېواد له ۱۳ مختلفو ولایتونو څخه راغلي وو ډالۍ شوه.

د مډال ترلاسه کوونکو مېرمنو په ډله کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د بامیان ولایت ګټه اخیستونکې زهرا محمدي هم  شامله وه.

## د کلیو بیارغونې  او پراختیا وزارت د انسټیټوت له خوا د کلیوالي اقتصاد  د پیاوړتیا پروګرام په وسیله د جوړ شویو د پور او سپما کلیوالي اتحادیو په اړه د سروې پیل



اتحادیو څخه په ناڅاپي توګه د لېدنې لپاره په سروې کې ۱۷۵ اتحادیې ټاکلي چې په نابېره توګه به ورځخه د یوې سروې په  ترڅ کې عملاً لېدنه کوي.

د یادونې وړ ده چې په یادو ولایتونو کې د کلیوالي اقتصاد  د  پیاوړتیا پروګرام ډېرې پروژې پلي شوي او ډېر شمېر نورې پروژې لا د تطبیق او عملي کېدو په حال کې دي.



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د حکم پر اساس په پام  کې  ده  چې  د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام  - WEERDPاړوند د پور او سپما  د کلیوالي اتحادیو  په اړه یوه سروې د کلیو بیارغونې  او  پراختیا  وزارت  د انستیټوت لخوا د هېواد په پنځو ولایتونو( هرات، بامیان، بلخ، ننګرهار  او پروان) کې په لار واچول شي.

د دې سروې لپاره د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د انستیټوت د څېړنو  او سروې امریت په تخنیکي شکل په یادو پنځو ولایتونو کې له ټولو ۵۰۰

## مېرمن شجاع! هغه مېرمن چې د ټولنې دردونه پخپلو انځورونو کې خلکو ته وړاندې کوي



مېرمن  زهره شجاع هغه مېرمن ده، چې د ټولنې دردونه، هیلې او ناخوالې پخپلو انځورونو کې بیانوي.  هغه اوس د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام  لەخوا په یو جوړ شوي سپما ګروپ کې غړیتوب لري.

د هرات ولایت په دې بې وزله کلي کې مېرمنې خوشحال دي، چې په سپما ګروپونو کې یې غړیتوب ترلاسه کړې او د دې ګروپونو په مرسته یې ځانته د انځور ګرۍ مختلف وسایل برابر کړي دي.

د دې کلي ځینو مېرمنې اچارونه جوړکړي، ځینې نور یې خامکونه ګنډي او خیاطۍ لري او ځینې نور یې  بیا پخپلو کورونو کې د چرګانو پالنه او ساتنه کوي، چې حاصلات یې بازار ته وړاندې او په دې توګه خپلې اړتیاوې پوره کوي.

هغه زیاتوي د ۱۳۹۷ کال په لېندې میاشتې کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام زموږ کلي ته راغله، موږ به هر اونۍ ۲۰ افغانۍ پخپل ګروپ کې را ټولولې.  د ګروپ د کارونو د ښه ترسره کېدو په موخه به ټول غړي په اونۍ کې یوځل سره را ټولېدلو او غونډه به مو جوړوله.

مېرمن شجاع وایي: له دې وړاندې یې هیڅ ډول  د انځور ګرۍ وسایل نه درلودل، لېکن بیا هم په نشته وسایلو کې به مې کوښښ کاوه ترڅو د خپلې ټولنې ستونزې د انځور جوړولو له لارې خلکو ته وړاندې کړم. پخوا به هغه ډېره ځورېدله چې د هغه د انځورونو ننداري ته څوک نه راځي، نه هم د هغې کوښښونو ته په تشویقي ښه څوک ارزښت ورکوي، د وسایلو په چمتو کولو کې ورسره چا مرسته نه کوله او نه یې پخپله په کافي اندازه پیسې درلودلې.

هغې به فکر کاوه چې شاید ټول عمر به د هغې جوړ شوي تابلوګانو ته د لېدو لپاره څوک رانشي، چې هغه وستایي.

په دې فکر به ډېره ځورېدله، چې یوه ورځ د رادیو یا تلویزون له لارې واورې چې د انځور کتنې لپاره یې څوک را روان دي. لېکن بیا به خواشینې شوه، چې هېڅوک ورته پام نه کوي او نه هم ورسره مرسته کوي.

کله چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د دوی کلي ته را ورسېده، په زړه کې یې نوې هیلې را وټوکېدلې، هغې په لومړي ځل د انځورګرۍ لپاره نه بلکې د ترشي جوړولو لپاره له سپما ګروپ څخه (1000) افغانۍ پور ترلاسه کړلې. ترشي باب یعنې اچارونه یې جوړ او بازار ته یې د پلورنې لپاره وړاندې کړل. مګر بیا هم له بهرنیو هېوادونو څخه د وارد شویو اچارونو له امله د هغې اچارونو کومه ګټه ونکړه.

هغه وایي: زموږ د کلي نورې مېرمنې هم اچارونه جوړوي، لېکن مهمه دا ده چې د خرڅلاو لپاره یې بازار موجود وي، موږ ټول کولای شو ډول ډول اچارونه جوړ کړو. که چېرته د پلورنې لپاره یې ښه بازار جوړ شي، نو ډېره ګټه به ترلاسه کړو.

هر کله چې به زهره د ژوند له ناخوالو ځورېدله خپلې خونې ته به ولاړه او ځان به یې د انځورګرۍ په کار بوختاوه، چې دا ځل یې بیا هم د اچارو له جوړولو او پلورنې وروسته د نه ګټې په تر لاسه کولو همدا کار وکړ.  سره له دې چې د انځور ګرۍ له فن سره ډېره مینه لري، لېکن په دې برخه کې هېڅ ډول رسمي زده کړه له کومې سرچېنې څخه نه ده ترلاسه کړې.

سره له دې چې د انځورونو لېدونکي نلري، لېکن بیا هم له خپلې انځورکښۍ څخه ډېره خوشحاله او راضي ده. له سپما ګروپ څخه د پور په ترلاسه کولو یې کولای شول چې د انځور کښۍ لومړني توکي او وسایل رانیسي او د پخوا په پرتله ښه انځورونه جوړ کړي.

هغه زیاتوي،  زموږ د ګروپ مېرمنې هره اونۍ خپل لاسي صنایع او تولیدات په غونډه کې یو بل ته د لیدو لپاره وړاندې کوي، له همدې امله هغه هم خپل انځورونه په غونډې کې نورو مېرمنو ته د کتنې او نېوکې په موخه وړاندې کوي. چې اوس د کلي نږدې ټولې مېرمنې د هغې د انځورګرۍ له فن څخه معلومات لري او هغه پخپل فن کې د لا زده کړو په موخه هڅوي.

له کلي څخه لېدونکې مېرمنې هره اونۍ د مېرمن زهره انځورونو ته د لېدو په موخه راځي او په اړه یې د خپلو اظهاراتو څرګندونه کوي، چې دا کار د آغلې زهره شجاع د خوښۍ لامل ګرځي.

هغې وویل: اوس د سپما ګروپونو جوړولو او پیاوړې کول دکلیوالو مېرمنو لپاره ځکه ډېر غوره دي، چې له دوی سره د اقتصادي موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

آغلې زهره شجاع د سپما ګروپ او په ټوله کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام څخه هیله لري، ترڅو وکولای شي چې د انځور ګرۍ په یو معیاري کورس کې زده کړې ترلاسه او له هغه وروسته خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکړي؛ ترڅو خپل انځورونه په نندارتونونو کې د ننداري لپاره وړاندې کړي.

زهره وایي:  د نندارتون له جوړولو څخه موخه دا ده، چې د افغانۍ مېرمنو استعداد او وړتیا ټولو خلکو ته په ډاګه شي، ترڅو هغوی  یې درک کړي.

مېرمن زهره په ټولنه کې د پټو دردونو د څرګندونې لپاره انځور ګري یوه غوره لار ګڼي.

زهره شجاع هیله لري، چې یوه ورځ به د هغې انځورونه نه یوازې په هرات ولایت، بلکې  د هېواد په نورو ولایتو نو کې هم لېدونکې ولري.

## د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد دپياوړتيا پروګرام د بېرته راستنېدونکيو لپاره د تشبثاتو د پرمختيا پروژې ګټه اخيستونکو ته ايمني وسايل وويشل شول



هېواد ته د بېرته راستنېدونکيو افغانانو لپاره د تشبثاتو د پرمختيا پروژه (RED) له څه باندې يو کال راهيسې د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام تر سيوري لاندې فعاليت لري، چې د پلازمېنې کابل په شمول يې ۷ ولايتونه تر پوښښ لاندې نيولي. يادې پروژې په دې موده کې د پلازمېنې په ګډون د هېواد په ۷ ولايتونو کې نږدې ۵۰۰۰ د غاليو اوبدلو کارګاوې په بېرته راستانه شويو هېوادوالو ويشلي، چې په دې توګه يې نږدې پنځلس زره هېواد والو ته د غاليو اوبدلو او پروسس په سکتور کې بوختياوې پيدا کړي.

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام د (RED) له‌خوا ته د بېرته را ستانه شويو افغانانو سره د مرستې په توګه د حفاظتي تدابيرو په مناسبت نن د پلازمېنې کابل د کليو پراختيا په رياست کې يو شمېر وسايل وويشل شول، په دې وسايلو کې د غاليو اوبدلو لپاره جامې، څټلدانۍ، ملابند او د بدني روغتيا ساتنې په موخه چې د کار پر مهال پاکه هوا تنفس کړي ماسک يا پوزه بندونه وويشل شول.

د يادونې وړ ده چې دا پروژه د غاليو اوبدلو په برخه کې هېواد ته د بېرته راستانه شويو هېوادوالو لپاره د روزنيزه ليدنو سربېره، له مارکېټ سره د اړيکو په برخه کې د توليداتو د پلورنې په موخه اسانتياوې برابروي، چې اوس يې په دې سکتور کې د حفاظتي تدابيرو يا خوندي ساتنې لپاره نږدې د اوه ميلونه او پنځه سوه زره افغانيو ايمني وسايل را نيولي، چې په لومړي ځل يې د دې پروژې شپېته ګټه اخيستونکو ته په پلازمېنې کابل کې د وسايلو ويش ترسره کړ.

د ايمني وسايلو د ويش دا لړۍ په کابل کې د يادې پروژې په ګټه اخيستونکو روانه او په ولايتونو کې به هم په نږدې کې پيل شي.

## د کندهار ولايت د اقتصادي پياوړتيا په موخه د ځانګړې کمېټې دريمه ناسته ترسره شوه



د جلالتماب جمهور رييس د لار ښوونې پر اساس يوه ځانګړې کمېټه د افغانستان د هوايي دګرونو د اقتصادي پراختيا د رياست په چوکاټ کې جوړه شوه، ياده کمېټه د کندهار ولايت د اقتصادي پياوړتيا لپاره طرحه چمتو کړې، چې د جمهوري رياست له‌خوا يې تاييد هم شوې.

په دې ناسته کې لومړی د دارالانشاء رييس او د رياست سرپرست نصرالله صاحب زاده د دې کمېټې له هغو دوامداره کوښښونو څخه مننه وکړه چې په دې لار کې يې ترسره کړې وو او د جمهوري رياست د مقام تاييدي يې هم د کمېټې له غړو سره شريکه کړه. له هغه وروسته د اراضي او ښار جوړونې معين، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ معيين، د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام اجرايوي رييس او نورو اړوندو ذيدخلو بنسټونو د دې کمېټې له کوښښونو خوښي څرګنده کړه.

رحمت الله قريشي د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام اجرايوي رييس، په کندهار ولايت کې د دې پروګرام د پنځه کلن اقتصادي پلان په اړه خبرې وکړې، نوموړي زياته کړه: دې پروګرام په کندهار ولايت کې دوه ولسوالۍ ډنډ او دامان تر خپل پوښښ لاندې راوستي، په دې ولسواليو کې به ۱۱۷۰ سپما ګروپونه جوړ او له دې لارې به د پروګرام د مالي او تخنيکي مرستو لپاره ۱۱۷۰۴ هېوادوال تر خپل پوښښ لاندې راولي؛ چې تر اوسه د دې ولسواليو ۴۵۰۰ مېرمنو او نارينه‌و په ۵۶۰ سپما ګروپونو کې ګډون کړی.

سربېره پر دې يو ستر ښځينه بازار چې د دې پروګرام له کليدي فعاليتونو څخه ګڼل کيږي، د کندهار ولايت په ګډون د هېواد په (۷) زونونو کې به د پروګرام له‌خوا جوړ شي، چې د وطني محصولاتو لپاره د بازار موندنې او د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا په موخه يو ستر ګام بلل کيږي.

د ناستې په پای کې ټولو ګډونوالو ژمنه وکړه، چې په دې برخه کې به په ډېر اخلاص، همغږۍ او په نه ستړې کېدونکې بڼه کار کوي.

**د بېرته را ستنېدونکو لپاره د تشبثاتو د پرمختیا پروژې په ګټه اخیستونکو د ټولنې او چاپېریال ساتنې لپاره ۷۲۰ بنډلونو ویشل شول او د پرمختیایي شوراګانو کلیوالي استازو ته د ۷۲۰ کارګاوو مسوولیت سپارل شو.**



د یو لړ رسمي مراسمو په ترڅ کې د ټولنې او چاپېریال ساتنې په مناسبت د بېرته راستنېدونکو د پروژې په فعاله اخیستونکو هېوادوالو باندې د هرات ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس ښاغلي محمد صدیقي په حضور کې ۷۲۰ د خوندي ساتنې بنډلونه وویشل شول. په دې مراسمو کې چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام ولایتي مسوولینو، د غالیو صادروونکو او جوړونکو، د پرمختیایي شوراګانو رییسانو، د غالۍ اوبدونکو کلیو استازو برخه اخیستې وه، د بېرته راستنېدونکو لپاره د غالیو په سکتور کې د تشبثاتو د پیاوړتیا پروژې په ګټه اخیستونکو ۷۲۰ بستې یا بنډلونه چې د ټولنې او چاپېریال ساتنې وسایل پکې وو او مجموعي قیمت یې نږدې یومیلون یو سل او اتیا زره شپږ سوه اته افغانیو ته رسېده په هرات ولایت کې د دې پروژې په ګټه اخیستونکو وویشل شول. چې د هرات ولایت د انجیل، ګذره، رباط سنګی د مختلفو سیمو ۹۱ تنه نارینه او پاتې ۶۲۹ مېرمنو ته دا وسایل ورکړل شول. د چاپېریال ساتنې دا بنډلونه له پروژې څخه د دې ګټه اخیستونکو د اړتیاو او کاري ځواک په مناسبت د پروژې د دوامداره ملاتړ په موخه ډالۍ شول.

له دې مرستې څخه موخه متشبثینو ته د تولید په برخه کې د فرصتونو برابرول دي، په ځانګړې توګه مېرمنو ته چې عایدات یې لوړ او په دې توګه له خپلوکورنیو سره په اقتصادي ډګر کې مرسته وکړي.

د یادونې وړ ده چې تر اوسه په هرات ولایت کې د پروژې ۷۲۰ تنه ګټه اخیستونکو نږدې ۵۲۸ تختې غالۍ چې ۲۳۰۵متر مربع ته رسیږي د نهه سوه څلور زره افغانیو په قیمت اوبدلې او عایدات یې ترلاسه کړي.

د پروګرام له کاري تګلارې سره سم د غالیو اوبدلو دا کارګاوې د کلیوالي پراختیایي شوراګانو د استازو پر وړاندې د پروژې په ګټه اخیستونکو وېشل شوي، چې اوس د هغوی ملکیت یادیږي، ترڅو بېرته راستنېدونکي هېوادوال په دوامداره توګه د اقتصادي پیاوړتیا په موخه له دې کارګاوو څخه ګټه پورته کړي. په دې پاملرنې سره چې د یادو ګټه اخیستونکو لپاره د کارموندنې په برخه کې د پروګرام دنده ترسره شوې ده، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام غوښتنه او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت منظوری دا ایجابوي، ترڅو له دې وروسته د غالۍ اوبدلو د کارګاو د خوندي ساتنې او ترمیم مسوولیت په رسمي توګه د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو مسوولینو ته وسپارل شي، چې د دې ناستې په څنډه کې د ویشل شویو کارګاو د ساتنې او ګټې اخیستنې مسوولیت هم په رسمي توګه د پرمختیایي شوراګانو ریسانو او نورو مخورو ته په کلیوالي کچه وسپارل شو.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د هرات ولایت څلور ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راوستي، چې په ټوله کې به د دې ولسوالیو ۳۶۰ کلي له پروګرام څخه ګټه پورته کړي. په دې شمېر کلیو کې به دا پروګرام ۲۸۷۶ سپما ګروپونه، د پور او سپما ۳۶۰ کلیوالي اتحادیې او همدا راز تولیدي ګروپونه جوړ وي. د دې بنسټونو له جوړولو څخه موخه د پیسو د سپمولو، د پانګونې، مالي سرچېنو ته د خلکو د لاس رسی او په ټوله کې د کلیوالو متشبثنو او صنعتلرونکو هڅول دي؛ ترڅو د خپلو اقتصادي او تولیدي فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه له دې سرچېنو څخه ګټه پورته کړي، چې په دې کار سره به په مستقیم او غیر مستقیم ډول په مختلفو برخو کې هېوادوالو ته مشغولتیاوې پیدا شي.

د یادونې وړ ده چې د اړوندې غونډې په پای کې له ککړتیا څخه د ټولنې او چاپېریال د خوندي ساتنې بنډلونه/ بستې د پروګرام په ګټه اخیستونکو وویشل شول.

## له موږ سره اړیکه:

سرک نیله باغ، دارالامان وات، کابل--افغانستان

www.weerdp-mrrd.gov.af

www.facebook.com/weerdpofficial

@weerdpofficial

Abdulwafi.nayebzai@mrrd.gov.af

+93 (0) 788 911 211

